# د عبدالحمید مومند په کلام کښې د پښتونولۍ څرک

# Perception of Pashtunwali in the poetry of Abdul Hamid Mumand

**SHUKRIA QADIR***
**Assistant Professor, Pashto Department**
**Abdul Wali Khan University, Mardan, Pakistan.**

Issn 2304-1463

Abstract

Pashtun Wali is a code of life of Pashtun nation. It is the unwritten social manual of the Pashtuns. In other words we can say that Pakhtunwali is the traditional lifestyle and is best described as a code of honor of the Pashtun people, by which they live. Scholars have widely interpreted it as "the way of the Afghans" or "the code of life of Pashtuns. Most of Pashto poets have described the values of Pashtunwali in their poetry. One of them is Abdul Hamid Mumand who has also upheld this tradition in his poetry. He has treated the subject of pashtunwali in his poetry in a unique way. In this paper, the verses of Abdul Hamid have been analyzed in which he has described the values of pashtunwali.

پښتو، پښتونولی او پښتونواله داسې اصطلاحات دی چې پښتنو شاعرانو ځاې په ځاې خپله شاعرۍ کښې استعمال کړی. چاپه سیاسی معنو کښې استعمال کړی دی او چا ترې کلتوری او ثقافتی معنې اخذ کړی دی. په دغو دواړو معنو کښې د دې اصطلاحاتو تعلق دَ معاشرتی ژوند او ټولنیزو اقدارو سره دے. دَ پښتو په کلاسیکی شاعرانو کښې خوشحال بابا دَ پښتو، پښتونولۍ او پښتون تصّور په سیاسی پس منظر کښې راوړے او ځېنې شمیر کلامونئې دَ پښتنې ټولنې دَ سیاسی پس منظر سره لیکلی دی چې په خصوصیت سره پکښې دَ پښتون او مغل ترمینځه دَ شخړو سیاسی واقعات رامخې ته شوی دی. دا ځکه چې دَ خوشحال بابا په دور کښې په پرصغیر او بیا په خصوصی توګه په پښتنو ټولنه کښې دَ پښتنو او مغلو سیاسی کشمکش په لمروح ؤ او د دغه کشمکش اثرات دَ پښتنو په ټولنیز ژوند په شدت سره مرتب شوی وو. دغسې زمونږ دَ شلمې صدۍ لوې شاعر او دَ غزل بابا امیر حمزه شنواری دَ پښتو او پښتونولۍ تصّور په کلتوری معنو کښې رامخې ته کړے دے چې پخپله دَ پښتنې ټولنې او پښتون اولس دَ ثقافتی ژوند ترجمانی کوی.

دَ پښتو په کلاسیکی شاعرانو کښې حمیدبابا یو داسې شاعر دے چې هغه په پخپله شاعرۍ کښې دَ پښتو، پښتونولۍ او پښتونوالې اصطلاحات په وړاندې ذکر شوو ړواړو معنو کښې استعمال کړی دی. یعنې حمید بابا ددغو اصطلاحاتو استعمال دَ پښتنو دَ ټولنیز ژوند په سیاسی پس منظر کښې هم کړےدے او دَ پښتون اولس دَثقافتی ژوند په حواله ئې هم ددغو اصطلاحاتو استعمال کړے دے. ګویا حمیدبابا په دې توګه دَ ددغو اصطلاحاتو په استعمال کښې دَ

پښتې ټولنې دَ سیاسط او کلتوری منظرنامې یو ښکلے امتزاج پیش کړے دے. خو بیا هم دَ هغه په شاعرۍ کښې دَ دغو اصطلاحاتو په استعمال کښې سیاسی رنګ زیات غالب ښکاری. په سیاسی تناظر کښې هم حمیدبابا دَ پښتونولۍ تصّور دَ مغل حکمرانانو دَ سیاسی رویئو په ضد زیات رامخې ته کړے دے چې هغه ورته په خصوصی توګه پښتونواله وائې او مقابله کښې ئې دَ مغلواله اصطلاح دَ مغلو دَ سیاسی او سماجی روئیودَ پاره استعمالوی. دَ مغلوالې نه علاوه حمید بابا دَ پښتونوالې تصّور دَ ادب په حواله دَ فارسۍ په مقابله کښې هم پیش کړےدے. ډاکټر راج ولی شاه خټک دَ حمیدبابا دَ پښتونوالې او مغلوالې دَ اصطلاحاتو په استعمال کښې دَ سیاسی پس منظر نه زیات دَ ادبی پس منظر په لور اشاره کوی. هغه داسې لیکی!

"دَ حمید بابا هغه ادبی شعور دے کوم چې دَ یو تحریک په صورت کښې د پښتو ادب ډېر پرمخ تګ دپاره هغه لرے دے. په خپل دیوان کښې د هغه واضحه وینا ده چې حمیدبابا د پښتو شعر د فارسۍ په مقابله کښې معیاری کول غواړی. بلکه هغه په دے فخر کړے دے چې د خپل غزل په رنګ کښې د پښتو غزل د فارسۍ نه زیات معیاری شوے دے. د دی نه علاوه د مغلوالے اصطلاح چې حمیدبابا څه رنګه په خپلو شعرونو کښې راوړے ده. د هغې نه هم ښکاری چې حمیدبابا د مغلو او د هغوئ د فارسۍ په مقابله کښې پښتو علمی کول غواړی.

یـــــو بـــــــل نســـــم مغلوالــــــه د رقیـــــب ســــــتا
کـــــه زو کــــــړے وم رښــــــتیا لــــــه پښـــــــتنے زه
کـــــه پـــــه نــــور وګـــــړی ظلـــــم د مغــــــل دے
خـــــدائے غمونـــــه کــــــړل دا ســــــتا مغـــــل زمــــا ."(۱)

په خپل دغه بیان کښې ډاکټر راج ولی شاه خټک نور وضاحت سره دَ پښتو او فارسۍ ادب تقابلی رحجان ته اشاره کوی او حمیدبابا په شعوری توګه دَ فارسۍ په مقابله کښې دَ پښتو او پښتونولۍ دَ ادبی تحریک نمائنده ګنی. هغه وړاندې داسې لیکی!

"دَ دے سره د نیرنګ عشق قیصے په پښتو د چاپه تقاضا ترجمه هم دے تحریک ته اشاره کوی به مثنوئ کښې شاه وګد د رومانی ادب په لوری د هغه رحجان ښئ او دشرعه الاسلام په شانے دینی او علمی مسائل پښتو کول د دے خبرے ثبوت دے چې حمیدبابا په خپل وخت کښې د پښتو د د علمی کولو زبردست تحریک لرلے دے. او دا ثبوت هلته نور هم قوی شی چې د قلندر اپریدی وینا ته ځیر شو. چې پکښې د قلندر تحریکی شعور ښکاره دےاو هم دغه قلندر د حمیدبابا د تحریک کلک ملګرےدے. او حمیدخپل استاد ګنی.

د پښتو ژبې په شعر دا خپله زمانه کښې
پر ې دنه ښو قلندر بې حمید ه بل حریف

نو د مغلوالې او د مغلو سره د مقابلې او د هغوئ د درباری ژبې فارسئ سره د مقابلې دا رحجان د حمید بابا د فن تخلیقاتو او نورو تالیفاتو او تراجمو په رنړا کښې دا ښکاره کوی چې د یو زبردست اوبی تحریک له مخه ئې د پښتو د شعر معیاری کولو او علمی او فنی مقابلې مولو پوره زیار کړے دے. چې د خپل سبک نورو شاعرانو ته ئې هم دغه نمونه ورکړے ده او په خپله هم د دے تحریک په خپل عصر کښې روح روان پاتے شوے دے."(۲)

ګویا حمیدبابا دَ پښتنې ټولنې دَ فرد په حیث دَ ادب په میدان کښې هم دَ فارسۍ سره دَ پښتو موازنه په داسې انداز کوی چې په شعوری توګه دَ پښتو او پښتنوالې نمائنده او سفیر ښکاری. په دغه بنیاد هغه چې دَ خپلې شاعرۍ دَ اوچت معیار په لور اشارې کوی نو دَ پښتو مقابله دَ فارسۍ سره کوی او په شعوری توګه دَ پښتو دَ ادبی تحریک مرستیال ښکاری چې وائې!

فارسی بانو دَ حیرت ګوتې په غاښ کړې
چې حمید سخن سازی کړه په پښتو کښې(۳)

دَ پښتو مقابله دَ فارسۍ سره ځکه کوی چې دَ حمید بابا دور کښې په پښتنه ټولنه کښې هم دَ فارسۍ غلبه وه. دَ ایران نه علاوه دَ ټول هندوستان سیاسی حکومتی او ادبی ژبه هم فارسی وه. او په دغه دور کښې چې په هندوستان دَ مغلو حکمرانی وه نو دَ مغلو دَ دربار ژبه هم فارسی وه. تر دې چې مغلو حکمرانانو پخپله په فارسۍ ژبه کښې لیک کولو. په دې بنیاد حمیدبابا مغل او فارسی هم لازم او ملزوم ګڼی چې دَ ژبې او ادب په حواله ئې په مقابله کښې پښتو رامخې ته کوی. ګویا پښتو او پښتونواله په سیاسی میدان کښې هم دَ مغلو په مقابله کښې راوړاندې کولے شوه او په علمی، ادبی او کلتوری روایت کښې هم پښتو او پښتونواله دَ مغلو په ضد راوړ ے شوې وه. ځکه دَ حمیدبابا په شاعرۍ کښې پښتونواله او مغلواله په دواړو حوالو یعنی سیاسی حواله هم او په علمی ، ادبی او کلتوری حواله هم دَ یو بل په مقابله کښې راوړلے شوی اصطلاحات دی چې دَ حمیدبابا دَ دور ټولنیزو روئیو ته اشاره کوی. دَ دغو اصطلاحاتو په ادبی او علمی پس منظر کښې دَ استعمال په حقله پروفیسر محمد نواز طائر هم وضاحت کړ ے دے او لیکلی ئې دی!

"عبدالحمیدبابا په اصل کښې د حسن، عشق او رومان شاعر تیر شو دے. عشق ئې زیات مجازی دے د حمیدبابا په کلام کښې دسې ډېر تلمیحات، تشبیهات او استعارات موجود دی کوم چې د ایرانی ادب خاصه او امتیاز ګڼی لے کیږی. دا براه راست د فارسۍ او بالواسطه د عربی ادب تعلیم اثر معلومیږی خو بیا هم که او کتے شی نو څنګه چې ښاغلی امیر حمزه شنواری

لیکلی دی چې پښتو اشاعرانو کتې متې د فارسي غزل تتبع نه ده کړې،او هغه ئې په خپل پښتني قالب کښې اچولے دے."(۴)

دَ خپل موقف په مرسته کښې چې پروفېسر ومحمد طائر نواز صاحب دَ حمید بابا کوم شعرونو دَ مثال په توګه وړاندې نو هغه هم داسې شعرونه وړاندی کوی چې خبره خو دَ پښتو او فارسۍ دَ مقابلې او موازنې کوی خو مثال پکښې دَ حمیدبابا په شعرونو کښې دَ پښتونوالۍ هغه خپله نمائنده شعرونه وړاندی کوی. دې لړ کښې هغه خپل تبصره دَ حمیدبابا دَ شعرونو دَ مثالونو سره کوی او داسې لیکی!

"حمیدبابا دَ خپل دور هم داسې یو غزل ګو شاعر تیر شوے دے. یو غزل ئې د نمونې په طور پېش کولے شی.

چې زغم ستا د رقیب بد ے فتنے زه
یاره کله یم دا هسې بې کینے زه
چې رقیب په ما کینه دا ستا مخ کا
مګرنه له رم دا تریخے بې اینے زه
چې سهم باندے سل سیخه ستا دَ جور
دومره زور راوړم له کومه د سینے زه
یو به نسم مغلواله د رقیب ستا
که زو کړے وم ریښتیا له پښتنے زه
ته چې مخ د مهر واړوے رقیب ته
په کودی کښې له غیر ته شم نینے زه
که ښئې راته هزار لوړے ژورے
د زړه کښے به له تانه کړم ستنے زه

دغه شان که د حمیدبابا د کلام ژوره مطالعه اوکړے شې نو په اکثرو اشعارو کښې ئې د پښتنې ماحول د تقاضو، د پښتنی هوډ او د پښتونوالے پوره پوره ترجمانی شوے ده حمیدبابا خپل غزل بیخی د پښتنی روایاتو تابع کړے دے."(۵)

حمید بابا دَ خپلې پښتو او بیا دَ پښتنې دود او کلتور حوالې بار بار ورکوی او دَ خپلې پښتنې ټولنې په غیرت، وقار او پښتنې شناخت بار بار فخر کوی. ډاکټر اقبال نسیم خټک صاحب دې لړکښې دَ حمیدبابا ښو شعرونه په مثال کښې پېش کوو او ورسره خپله تبصره کوی. هغه لیکی!

"حمیدبابا حُسن ته د ټینګے نه دے یا د عشق اورونو سوے دے خو فطرتاً پښتون دے او د پښتونولئ د رسم و رواج پابندے دَ پښتونولئ جذبه ئې په رګونو کښې

چپو ده، نه د مال پروا کوظ او نه د ځان، نه د سر پروا او نه د تن، حمیدبابا خپل ځان په وینو کښې لت پت لیدے شی خو دَ بے پتئ داغ په ځان نه لګوی. ځکه چې د بے پتئ داغ پښتون د مرګ نه کم نه ګنړی.

ځان به مړ د عشق په ځیل کړمه ناصحه
وابه نه وړم زهٔ حیمد هسې پښتون یم
پروت په وینو کښې لت پت ښه یم په پت کښې
نهٔ د سرو زرو په تخت باندے بے پته
قول او بول په ژوندون نهٔ شی نورو لے
ځکهٔ ځان په قول وژنی پښتانهٔ"(۶)

اقبال نسیم ختک دَ حمید بابا له خوا دَ مغلوالي دَ اصطلاح وضاحت هم کړے دے چې دَ پښتونوالي په ضد ئې استعمال کړې ده او په دغه وضاحت کښې ئې دَ حمیدبابا درور تولنیز حالات هم څرګند کړی دی چې پکښې په پښتنه تولنه کښې دَ مغلو دَ ظلم زور نقشه ښائی او ورسره دَ ګل خان جمال خان په واقعه دَ حمیدبابا دَ لیکلے شوی کلام نه یوه برخه هم دَ نمونې په توګه وړاندې کوی. هغه دې لړ کښې داسې لیکی!

"حمیدبابا دَ مغلو د جوروستم په سبب د مغلوالئ اصطلاح هم استعمال کړے ده. د مغلو د لاسه چې په پښتنو کوم ظلم کیدو، د دے اظهار هم حمیدبابا په خپل کلام کښې کړے دے او ثابت غزل ئې په دغه موضوع ویئلی دی. حمیدبابا دَ معاشرےدَ عامو خرابیانو بے انصافئ زورګیرئ دَ جمال خان د واقعے په سلسله کښې ثومره په عبرتناک انداز کښې دَ خپلو خیالاتو اظهار کوی:

چې تر خپله حده پښے غزوی وړاندے
زمانه به ئې جمال غوندے پائمال کا
چې په زور د بل جامه اغوندی ځان ته
ناشسته به ئې د خپل زخم دسمال کا
پردئ برخے هیچا نه دی خپلے کړی
بلکه خپلے به پرے بائیلی چې دا خیال کا
دَ جمال په شیر به اوسیزی خپل سر پرے
چې پیره هر پروانه په دا مشال کا
لکه ګرو چې په حسن[رض] حسین[رض] یزید وو
هسې ګرم په مونږ جمال ووکه څوک سوال کا"(۷)

مونږ چې دَ حمیدبابا دَ شاعرئ په حواله دَ پښتو او پښتونولئ دَ کلتوری او ثقافتی اړخ کوم وضاحت کړے دے، خواجه محمد سائل صاحب دغه پښتو او پښتونوالئ ته دَ خودئ نوم ورکوی او

دَ حمیدبابا په کلام کښې ئې دَ هغه دَ پښتنې غیرت او وقار په ضمن کښې جائزه اخلې. خواجه محمد سائل ورومبے خو دَ خودۍ او پښتو په حقله خپل وضاحتی بیان پېش کوی او دَ اسلامی اقدارو سره ئې نسبت هم ښائې او بیا دَ حمیدبابا به کلام کښې د دغو اقدارو جاج اخلی. دَ خودۍ او پښتو به وضاحت کښې خواجه محمد سائل صاحب داسې لیکی!

"خودی اؤ پښتو دواړه هم معنی ټکی دی. څه ته چې دَ اُردو او فارسۍ ژبے ویونکی"خودی" وائې هغې ته پُښتانه په پښتو کښې "پښتو" وائې. پښتو نه یوازے دَ یو ژبے نوم دے کومه چې د دے ژبے ویونکې "پښتون" وائې بلکه دا دَ ژوند هغه ټولو اړخونو سره تعلق لری د کومو تعبیر چې اسلام د هغه ښه اخلاقو په نوم کوی کوم چې انسان دَ ترقۍ اوچتے پوړۍ ته رسوی. پښتو عین اسلام دے او اسلام عینِ پښتو ده خو هله پسته چې پښتو په رښتیا پښتو وی. هسې ځانته پښتون ویئل او دَ پښتو کار نه کول د پښتو بے قدری او بے عزتی ده"(۸)

د دغه مجموعی وضاحت نه پس سائل صاحب دَ حمیدبابا شاعرۍ کښې دَ پښتنی قدرونو، پښتو او پښتونولۍ او پښتنی غیرت او وقار وضاحت داسې کوی!

"حمیدبابا په خپل کلام کښې د پښتو او خودۍ په ګڼو اړخونو د خپل خیال اظهار کړے دے ولے دلته ترے مونږ صرف د خودارۍ هغه اړخ اخلو د کوم مقصد چې انسان ته په خپل مټ د ګټے دَ بل په آسری د نه پاتے کیدلو او په محنت مشقت د ژوند تیرولو ښودنه ده. او حقیقت هم دا دے چې دَ داسې سړی ژوند ه هډو په ژوند کښې د سره حساب نه وی څوک چې په خپله ټک کار نه کوی او د بل لاس ته ناست وی او تن آسانه ژوند تیره وی. د حمیدبابا په نزدے داسې سړے د لټ غوائی په مثال وی چې بے د قصاب د چړے نه ئې بل هیڅ غوره علاج کیدے نشی.

د جملــــــه بــــــد یـــــــوؤ ســـــــر تـــــــــن اســــــانه ده
خــــو څــــــه وه شــــــی لـــــــټ غـــــــوائے پـــــــه قصـــــابانو

حمیدبابا لکه څرنګ چې اسلامی اُصول دی، دَ محنت خوارۍ او مشقت قائله دے او د سوال او منت روزۍ ته په سپک نظر ګوری. ځکه چې سوال او منت د سړی خودی او پښتو ته ګونړی او لګوی او د بے غیرتۍ او ارام طلبۍ ژوند ته ئې لیواله کړی.
په دے حقله حمیدبابا په خپل دیوان کښې ځائې په ځائې ذکر کړے دے او مونږ ته ئې د محنت او خوارۍ په حقله یو داسې زبردست سبق پریښودے دے چې تر څو پورے مسلمان او پښتون قوم ژوندے وی نو د حمیدبابا په قبر د دعاګانو او شاباشی پنډونه ور استوی."(۹)

دَ حمیدبابا د دغه موقف دَ ثابتولو دَ پاره چې خواجه محمد سائل صاحب دَ هغه دَ کلام نه کوم انتخاب شعرونه دَ نمونې په توګه وړاندې کړی دی. هغه په دې ډول دی!

"چې تنړا کښې د محنت لری په لاس کښې
هغه نه ګوری په خُله د ګوهر مخ
په محنت سره ټُوک سړے بروت ښه دے
نه ولاړ په دروېزه د یوه ټُوک
د حمید د نیستۍ وياړمه کړه حمیده!
ور به نه کړم دا شړئ په دغه شال
اطلس پوش دِ وياړ زما د شړئ نه کا
شاړ نمد کړو آيئنے غوندے بسترما
وږے تږے ناست په خپل انډی یربښه ئې
نه په تخت دپاسه ناست د بل کره
چې په سوال اوږ ده وے لاس چاته حمیده!
په یوه پر هر ږ دے بل پرهر دپاسه
په حیا کښې سړے وږے تږے ښه دے
نه په شهد و شکر موړ په بد رسوا
چې په پوزه ئې پیزوان نه وی مدام لوړ
د خودبین سړی له ډېرے په سلونے
خُله په لوږه چینګه ښه ده نه په سوال
د هغه د لاس اُوبه د حیات مه څښه
چې اخر ئې لاندے کیږے تر منته
زر به لاس د نا اُمیدئ په تشی کیږدی
چې پ اهل د دُنیا تړی څوک ملا
نور قیدونه واړه سهل دی حمیده!
خو په غاړه دِ دَ طمعے زنځیر مه شه"[۱۰]

دَ پښتنې غیرت، خوداری، مینې وفا او اخلاص دَ ټولنیزو قدرونو په نمائندګۍ چې دَ حمیدبابا دَ کلام جاج ا خستلے شی نو ډېر په وضحه توګه دَ هغه دَ خوداره شخصیت او په ټولنه کښې دَ هغه دَ مثالی کردار نخښې راوړاندې کیږی. هغه دَ خپلې ټولنې خود داره او باکرداره فرد ته وائې چې دَ هیڅا طمع مه کوه. په هر حال دَ خپل ذات، شخصیت او کردار حفاظت ضروره دے. په هم دغو خاضیتونو په ټولنه کښې باوقاره مقام ترلاسه کیدے شی. هغه دَ بل لاس ته کښیناستل او دَ بل نه امید او طمع لرل یوه ډېره غټه ټولنیزه خرابی ګڼی او دې لړ کښې داسې وائې!

"چې سړے له سړي کړي د دنيا طمع
سړيتوب به ئې سپيتوب شي په دا طمع
د هغو د حيا پښه مدام ښوئيږي
چې ئې واخيسته د نس په هوا طمع
د دانے په طمعه بند ازاد مرغے شي
زر به ستا په ځان بلا شي دا ستا طمع
د هغو تر خه وئيل شي د حق پاتے
چې ئې خله کاندې خوږه د حلوا طمع
زر ئې رنګ د اشنايئ سره وران شي
چې پيدا شي د اشنا له اشنا طمع
د اوبو ځاځکے ئې دُر شي په سينه کښې
خو چې پرے کاندي صدف له دريا طمع
د شاهئ د ګدايئ، تفاوت ورک شي
چې پوره نه کا بادشاه د ګدا طمع
هيڅ علاج ئې د جهان په حکمت نه شي
چې ئې سازه په وجود کړي بلا طمع
پر دي پريږده که په قطعه پلار او مور وي
د هيچا وچاته مه شه پيدا طمع
له دغے طمعے طاعون ښه دے حميده
چې کوے د نس د پاره له چا طمع"(۱۱)

او بيا په ټولنه کښې د دغه قسمه مثالی کردار دَ حصول دَ پاره په هر کار کښې او په خپل نيت او کردار کښې دَ اخلاص درس هم ورکوی. حميدبابا وائي!

"هر باغي بوزي بنده کاندي اخلاص
هر بے شرم شرمنده کاندي اخلاص
آب و تاب ئې عالمګير لکه آفتاب شي
هر جبين چې تابنده کاندي اخلاص
پوچ پروائي د حيوان په اوبو نه وي
هغه ژوي چې زنده کاندي اخلاص
که ئې ښو لره رانغے زه ضامن يم
که ځوک ډېر له درنده کاندي اخلاص
هيڅ مقراض ئې غوڅولے به خله نه شي

هر پیوند چې پائنده کاندې اخلاص
لکه نمر په جهان وخیژي رڼا شي
دم قدم نمائنده کاندې اخلاص
شګوفه شګوفوي په شان د صبح
چې موسکۍ خله په خنده کاندې اخلاص
هغه کار چې سحر ګر کاندې په سحر
تر هغه ئې ځو چنده کاندې اخلاص
سم د لاسه زوړ کافر د سلو کالو
و اسلام ته خواهنده کاندې اخلاص
د نفاق له اهله ځان ژغوره حمیده
په لباس به دې ګنده کاندې اخلاص"(۱۲)

حمیدبابا په ټولنه کښې دَ باوقاره او پښتنی غیرت نمائنده کردار دَ پاره په صاقه دوستۍ او خالصه رشته یقین لری. په هر حال کښې دَ وفا ، مینی، حیا او غیرت تلقین کوی او چې کله په ټولنه کښې دغه انسانی او اخلاقظ قدرونه نه وینی نو حمیدبابا بیا داسې وائي!

"ونیو مه شه په دوستۍ د دنیا خلق
دا بې شرم بې وفا بې حیا خلق
لکه سپي چې په مرداره سره جنګ کړي
هسې جنګ کا په دنیا بې حیا خلق
نه پوښتنه سره کا نه مخ کتنه
شا په شا سره تیریږي اشنا خلق
ستغ ستغ خلق بې مزې دي پاتې شوي
زمانې تر شتوني تیر کړه حلوا خلق
په یوه به دې هم سترګې خوږې نه شي
که نظر کړې د دې دور به دا خلق
چې ئې لاس له خیره ؤ خاته یک لخته
څه به نه وي آلو ده په بلا خلق
لکه قند هسې دروغ ورته خواږه شو
لکه زهر هسې تو کړه رشتیا خلق
په پرده کښې به دې پرې نه ږ دي حمیده
چې دې لوئې په زمانه شو رسوا خلق"(۱۳)

په ټولنه کښې د منافقت نه کرکه کوی او دَ ټولنې په وګړو کښې چې دَ منافقت او بدکردارۍ اثرات محسوسوی نو دَ ټولنې دَ یو باکردار او باوقاره فرد به حېث داسې ګویا کیږی!

"چې دوستۍ کښې سره وینم میرځن خلق
ځکه بائلو د دراستئ وطن خلق
ماته زهر په شکرو کښې ښکاریږي
دا تر شهدو تر شکرو مئین خلق
په مجلس ورسره هیڅ چرے کښې منے
دا بے زیانه بے نقصانه غمژن خلق
روښنائي د چا د مخ وي کله خوښه
د انصاف په تورو سترګو لیچن خلق
تر یوے دتئ حیا ځار او قربان شه
د شو خئ د بے شرمئ من من خلق
نا پکار بے مغزه پوست دے په منعی کښې
په نسبت دوړاندو خلقو اُسن خلق
په محنت سره تنہاکے لاس پمن دي
څه په لعلو پسے مړي پمن خلق
له نا اهلو د زړه راز ساتلے بویه
و چمن ته پریښوے نه شي چمن خلق
روغو څه زده د حمید د زړه له در ده
د دردمن په حال پوهیږي دردمن خلق"(۱۴)

دَ حمیدبابا دغه قسمه شعرونه عموماً په ټولنه کښې دَ اخلاقی قدرونو او مثالی کردار ترجمانی کوی چې مونږ به ئې په راروان بحث کښې د اعلی ټولنیزو اخلاقی قدرونو په حواله جائزه اخول. دلته د دغو څو شعرونو وړاندې کولو بنیادی مقصد دا ؤ چې مونږ دَ حمیدبابا په شاعرۍ کښې دَ پښتو او پښتونوالۍ خبره کوو نو د دغه بحث دَ سیاسی اړخ سره سره دوئم اهم اړخ یې پښتنې ټولنې دَ کلتوری روایاتو هم دے. او په کلتوری حواله حمیدبابا دَ پښتو او پښتونولۍ دَ ټولو بنیادی اوصافو کلک پلوی دے چې مونږ ئې دَ یو پښتون او بیا مثالی پښتون په حیث دَ حمیدبابا یو ځانګړےخاصیت ګڼو او په پښتنه ټولنه کښې دَ هغه دَ دغه ځانګړی خاصیت اظهار دَ هغه په شاعرۍ کښې لټوو چې په اصل کښې دَ پښتنې ټولنې دَ عمومی او اجتماعی نفسیاتو ترجمانی کوی او پخپله دَ حمیدبابا دَ ټولنیز شعور څرګنده عکاسی کوی.

## حوالې


۱) ختهک، راج ولی شاه، ډاکټر، دَ پښتو ادبی تحریکونه،پښتو اکیډیمی پېښور یونیورسټي ۱۹۸۹، 386مخ

۲) هم دغه 383 مخ

۳) مومندعبدالحمید، دراومرجان(مرتبه ډاکټرسیدانوارلحق جیلانی)، یونیورسټی بک ایجنسی پېښور، ۱۹۷۸، ۲۶۵ مخ

۴) طائر، محمدنواز، پروفېسر، روهی ادب، پښتو اکیډیمی، پېښور یونیورسټی، اشاعت دوئم،

۱۹۸۶، ۳۴۴، ۳۴۵ مخونه

۵) هم دغه ۳۴۵، ۳۴۶ مخونه

۶) ختهک،ایم اقبال نسیم ، ډاکټر، دَ رنګ او بو قافله،اداره علم وادب پاکستان، صوبه سرحد پېښور،جولائی ۱۹۹۱، ۴۸ مخ

۷) هم دغه ۱۰۳، ۱۰۴ مخونه

۸) سائل، خواجه محمد ، عبدالحمیدبابا ، ژوند او شاعری،اعراف پرنټرز پېښور، دوئم چاپ دسمبر ۲۰۱۹، ۸۷، ۸۸ مخونه

۹) هم دغه ۸۹، ۹۰ مخونه

۱۰) هم دغه ۹۰، ۹۱ مخونه

۱۱) عبدالحمیدمومند، دراومرجان ۱۰۹، ۱۱۰ مخونه

۱۲) هم دغه ۱۰۳، ۱۰۴ مخونه

۱۳) هم دغه ۱۱۶، ۱۱۷ مخونه

۱۴) هم دغه ۱۱۷، ۱۱۸ مخونه